PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۸۸

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۸۸ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۶۳ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د چنگاښ ۲۸ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شعبان المعظم ۱۸ مه د ۲۰۱۱ د جولای ۱۹ مه

تفویض مدال غازی وزیراکبر خان به جنرال پترایوس

رییس جمهور کرزی با اعطای مدال عالی دولتی غازی وزیر محمد اکبر خان به جنرال دیوید پترایوس، قوماندان عمومی نیروهای ناتو در افغانستان از خدمات موصوف قدردانی کرد.

بر اساس اعلامیۀ مطبوعاتی ریاست جمهوری، در مراسمی که به همین مناسب دیروز در ارگ ریاست جمهوری ترتیب شده بود، داکتر صادق مدبر، رییس عمومی ادارۀ امور و دارالانشای شورای وزیران ص۳

لست سیاه، نام های سفید شده وَ بازی های پشت پرده

در این اواخر خبرهایی منتشر شد که شورای امنیت سازمان ملل متحد کار سفید سازی لست سیاه را به شدت زیر کار گرفته است. روز جمعۀ گذشته منابع مرتبط به شورای امنیت و رسانه های غربی اعلام داشت که حذف نام های ۱۴ تن از مقام های طالبان از این لست زیر دست است. به دنبال این گزارش ها، روز گذشته، یک منبع دولتی افغانستان نام های ۱۰ تن از طالبانی را فاش کرد که به تازه گی از لست سیاه شورای امنیت سازمان ملل متحد حذف شده اند. در این ده نام اشخاص زیر قرار دارد: محمد ربانی، رفیع الله، محمد صدیق آخندزاده، رحیم الله زرمتی، عبدالغفور، محمد سهیل شاهین، شمس الله کمال زاده، سید علم الدین اسیر، محمد حسین و محمد داوود. به گفتۀ یک مقام حکومتی افغانستان ۱۰ مقام سابق رژیم طالبان اند که نام های شان در لست افراد حذف شده از لست سیاه شورای امنیت سازمان ملل متحد درج اند.

این مقام افغان که نخواست از وی نام گرفته شود، در صحبت با رسانه ها گفت، از این پس تحریم های سازمان ملل متحد بر این افراد بر طرف شده است. سازمان ملل متحد به روز جمعه نام های ۱۴ تن از مقام های رژیم طالبان را از لست سیاه حذف کرد.

هرچند شورای عالی صلح افغانستان از این اقدام سازمان ملل متحد استقبال کرده و گفته است، این کار طالبان را تشویق می کند، تا به رکاب صلح رو بیاورند، اما باید گفت که در ردیف این ده نامی که جدیدا اعلام گردیده است، بیشتر نام های کسانی به چشم می خورد که یا سال ها قبل مرده و یا کشته شده اند، و یا اینکه در شرایط فعلی هیچ ارتباطی با گروه طالبان ندارند. چنانکه محمد ربانی حتا در هنگام استقرار امارت اسلامی ص۳

په اندونیزیا کې د افغانستان په اړه د کېدونکو خبرو پایلې به څه وي؟

دافغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي چې افغان پلاوی د اندونیزیا د عالمانو د نړیوال غورځنګ په بلنه هغه هېواد ته تللی دی.

د یاوشوي وزارت چارواکي وایي چې افغان پلاوی به ددریو ورځو لپاره د اندونیزیا ددغه لوی اسلامي غورځنګ سره په یوه درې ورځنۍ غونډه کې د اسلامي نړۍ د ستونزو او په ځانګړې ډول د افغانستان د سولې د بهیر په اړه خبرې اترې وکړي.

افغان حکومت په پرلپسې ډول ویلي دي چې اسلامي هېوادونه د افغانستان د ستونزې د سولې ییز هواري په برخه کې ډېر څه کولای شي.

د همدې موخې د پوره کولو په نیت یو ۲۰ کسیز افغان پلاوی د سولې د عالي شورى د مشر برهان الدین ربانی په مشرۍ د اندونیزیا پلازمېنې جاکارتا ته رسېدلی دی.

د سولې د عالي شورا ځینې غړي، د افغانستان د مشرانو یو شمیر غړي او د ځینو نورو حکومتي بنسټونو چارواکي ددغه پلاوي برخه دي.

دافغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي چې افغان پلاوی د اندونیزیا د عالمانو د نړیوال غورځنګ په بلنه هغه هېواد ته تللی دی.

د یاد شوي وزارت ویاند جانان موسی زی وایي چې افغان پلاوی به د اندونیزیا له دیني پوهانو سره د اسلامي نړۍ د ستونزو او د افغانستان د جوړجاړي د بهیر په اړه خبرې اترې وکړي: ''د اسلامي غورځنګ یا 'نهضة العلماء' له خوا ځخه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته یوه بلنه رالېږل شوې وه، چې د افغانستان له خوا ددوی په درې ورځنۍ ناسته کې ګډون وکړي. د اسلامي نړۍ د ستونزو او ننګونو په اړه خبرې کېږي او په ځنګ کې به یې د افغانستان د ملي پخلاینې په اړه د اسلامي هېوادونو د استازو ترمنځ خبرې او سلا مشورې کېږي.''

خو تر اوسه نه ده څرګنده چې افغان پلاوی به د افغان حکومت او وسلوالو مخالفانو تر منځ د جوړجاړي د بهیر په ترڅ کې له اندونیزیا نه څه راز غوښتنې وکړي.

خو د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هیله لري چې دا غونډه به د افغانستان د سولې پر بهیر ګټور اغېز وکړي. ۳مخ

په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو نوي قوماندان خپله دنده پیل کړه

امریکایي جنرال جنرال جان الن پرون په افغانستان کې د جنرال ډېوډ پیټرایوس پر ځای د ناټو او امریکایي پوځیانو عمومي قوماندانه په یولړ مراسمو کې رسماً په لاس کې واخیسته.

جنرال پیټرایوس په کابل کې د نړیوالو ځواکونو په مرکز کې جنرال الن ته د نړیوالو ځواکونو د عمومي قومندان مسوولیت رسماً وسپاره.

دا مراسم په کابل کې د کرزي د یوه سلاکار او د روزګان د پخواني والي جان محمد خان او د ولسي جرګې د غړي محمد هاشم وطنوال له وژل کېدو او په بامیان کې افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي چارو تر سپارلو یوه ورځ وروسته ترسره شول.

جنرال پیټرایوس، چې تر جنرال سټنلي مک کرسټل وروسته په افغانستان کې د ناټو او امریکایي پوځیانو قومندان شو، په افغانستان کې یو کال تېر کړ. که څه ۳مخ

شمار سربازان کشته شدۀ ناتو در سال جاری به ۳۱۸ تن رسید

نیروهای بین المللی (آیساف) به رهبری ناتو، از کشته شدن پنج سرباز شان در مناطق مختلف افغانستان خبر دادند. به اساس معلومات منابع آیساف، سه سرباز شان، دیروز در شرق افغانستان در نتیجۀ انفجار یک ماین کشته شده است. در یک اعلامیۀ دیگر آیساف آمده است که دو سرباز دیگر شان، پریروز در جنوب افغانستان، در نتیجۀ انفجار یک ماین به قتل رسیده است. در اعلامیه های آیساف، محلات دقیق رویداد و هویت سربازان کشته شده مشخص نگردیده؛ اما باید گفت که در شرق نیروهای امریکایی به رهبری آیساف، مستقر می باشند. روز گذشته نیز، نیروهای آیساف، از کشته شدن دو سرباز شان در افغانستان خبر داده بودند. از آغاز سال روان میلادی ص۳

تري جي، د مخابراتي سیالیو په ډګر کې د یوه بل سیال په توګه راڅرګندېږي

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت هڅه کوي، چې د نوري فایبر له لارې د تري جي ټکنالوژۍ په واسطه خلک په خپلو موبایلونو یا ګرځنده ټیلیفونونو کې په پراخه سطح انټرنیټي خدمتونو ته هم لاسرسی پیدا کړي.

د دې وزارت سرپرست انجنیر امیرزي سنګین د دوشنبې پر ورځ په کابل د تري جي یا درېیم نسل په نامه د ټکنالوژۍ د معرفي کولو پر مهال خبریالانو ته څرګنده کړه، چې د دې سیسټم له فعالېدو سره خلک کولای شي پر خبرو سربیره تصویرونه او ویډیوګاني وګوري او دغه راز په خپلو موبایلونو کې تیز انټرنیټي خدمتونه هم ولري.

د انجنیر سنګین په خبره تري جي ټکنالوژي د نړۍ په ځینو هېوادونو کې له تیرو اتو کلونو راهیسې تجربه او خدمتونه یې ۳مخ

اداري فساد؛ بیا هم اوبه له پاسه خړې دي! ۲

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

امریکا و پاکستان، ادامۀ دیپلوماسی تنش زا

تنش های دیپلوماتیک بین واشنگتن و اسلام آباد هنوز فروکش نکرده است؛ نثار انتقادهای ظاهرا پوست کنده بر همدیگر و به چالش کشیدن های تلویحی همدیگر در این اواخر، داخل ابعاد جدیدی شده است. با توجه به همچو فضا در روابط امریکا و پاکستان، کمیسیون روابط خارجی سنای پاکستان روز گذشته باردیگر سیاست های امریکا را در قبال پاکستان، مداخله جویانه توصیف کرد. اعضای این کمیسیون مجلس سنای پاکستان، در جلسۀ روز گذشتۀ خود با اشاره به ادامۀ حملات هوایی ارتش امریکا به مناطق قبایلی، برلزوم حفظ استقلال، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی پاکستان تاکید کردند. اعضای این کمیسیون از دولت پاکستان نیز خواستند، به قول آنان با سیاست های مداخله جویانۀ امریکا که منافع ملی آن کشور را به مخاطره انداخته است، مقابله کند.

حملات طیارات بدون پیلوت اردوی امریکا به مناطق قبایلی پاکستان، همواره با انتقادات گستردۀ مردم و مقام های رسمی این کشور رو به رو بوده است. دولت امریکا مدعی است، هدف این حملات طالبان هستند.

تداوم حملات هوایی اردوی امریکا به مناطق قبایلی پاکستان به منظور هدف قرار دادن مواضع گروه طالبان و القاعده، عامل پایداری در بحران روابط دو کشور است.

دولت پاکستان می گوید، حملات خود سرانۀ اردوی امریکا به مناطق قبایلی علاوه بر پیامدهای خطرناک داخلی، احساسات ضد امریکایی را به شدت افزایش خواهد داد.

افزایش تلفات غیرنظامیان و گسترش اعتراض های مردمی و احزاب مخالف به حزب حاکم مردم از جمله پیامدهایی است که دولت پاکستان با آن رو به رو است.

علی رغم اعتراض های مکرر دولت، مجالس ملی و سنای پاکستان به حملات هوایی اردوی امریکا به مناطق قبایلی، مقام های کاخ سفید همچنان با تاکید بر ادامۀ حملات طیارات بدون پیلوت، به خواسته های اسلام آباد بی توجه اند. تداوم بی اعتنایی واشنگتن به درخواست پاکستان دربارۀ توقف فوری این حملات موجب شد، تا چهارشنبۀ گذشته جنرال "احمد شجاع پاشا" رییس سازمان استخبارات اردوی پاکستان در سفر به امریکا، باردیگر بر لزوم قطع کامل حملات طیارات بدون پیلوت به مناطق قبایلی، تاکید کند.

ادامۀ این گونه حملات همزمان با افشای خبر هدایت طیارات بدون پیلوت اردوی امریکا از پایگاه هوایی شمسی در ایالت بلوچستان پاکستان، موجب شده است، اعتراض ها به دولت این کشور به شدت افزایش یابد.

کارشناسان بر این باور اند، تبدیل شدن پایگاه هوایی شمسی به مرکزهدایت حملات طیارات بدون پیلوت امریکا به مناطق قبایلی پاکستان، دولت این کشور را با بحران عمیق مشروعیت و در نهایت با بحران روابط دیپلوماتیک با واشنگتن مواجه می کند.

اداري فساد؛ بيا هم اوبه له پاسه خړې دي!

میوند

اداري فساد په افغانستان کې هغه لوی مشکل او لوی سرخوړی دی، چې له کلونو کلونو راهیسې په دې هېواد کې جریان لري او د دې پرځای چې له منځه یوړل شي، لاپسې پراخېږي او لایې ریښې ژوړې ځي. اداري فساد پخپله دېر ارخونه لري، چې ټول یې په یوه لیکنه کې نه ځایېږي او نه تفسیر پرې، خو له مهمو ارخونو یې یو هم په اداره کې د کار لپاره د اهلو او نااهلو کسانو غوره کول او په دې برخه پراخ روان اداري فساد دی.

که له یوې خوا په افغانستان کې د استعدادونو د غوړلو او استعدادونو د ودې خبره کېږي، بل لور ته بیا په لوی لاس په دې هېواد استعدادونه له منځه وړل کېږي او هغه د چا په خبره د استعدادونو لو روان دی. په دې هېواد کې د بناغلي کرزي د حکومت تر تشکیل وروسته د استعدادونو دارزونې او کار د کار اهل او وړ کسانو ته سپارلو په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون رامنځ ته شو. دې کمېسیون هم تر یوه بریده خپل کارونه د خپلې لایحې مطابق ترسره کړل او لا هم جریان لري، خو لکه څنګه چې تر غوښتنه او تمه کېږي، هغسې یې نه ترسره کوي او ان په ډېرې مواردو کې داسې هم پېښېږي، چې د ازادې سیالۍ تر نامه لاندې د بستونو او دندو د تقسیم او ورکولو په برخه کې یوځه بې عدالتي کېږي او ځینې هغه اداري چې په خپل تشکیل کې بستونه خالي وګوري، نو د خپلې خوښې کاندید ورته وړاندې کوي او لا له وړاندې له کمېسیون سره جوړجاړي او هماهنګي رامنځ ته کېږي او بیا د کمېسیون له لارې هم هغه سړی مورد نظر پوست ته معرفي کېږي، حال داچې د ازادې سیالۍ، له هغه وروسته شارټ لېست او له هغه وروسته بیا د امتحان پروسه هم ترسره کېږي او په دې ډول یې نمایشي او په خپل ذات کې جعلي پروسه ترسره کېږي! حال دا چې هغه کس چې مورد نظر پوست ته غوره کېږي، هغه به دا وړتیا هم ونه لري، چې په اړوند پوست یا بست کې دنده ترسره کړای شي او مسوولیتونه مخ ته یوسي. بله مهمه او د یادونې مسئله، چې له پورته مسئلې سره هم اړخ لګوي داده، چې په دولتي اداره کې یو شمېر واکمن استازي په خپلو اړوندو اداره کې لوړ بستونه او لوړ پوستونه خپلو خپلوانو او نږدې کسانو ته ور کوي او پخواني کسان په یوه نه یوه نامه له پوستونو لرې کوي او پر ځای یې خپل کسان ګوماري او کله هم که یو لوړپوړی له یوه ځایه بل ځای ته ادلون بدلون مومي، نو خپله ټوله کاري کابینه (خپلوان + ګوندي او نور انډیوالان) له ځانه سره بیایي او په بله اداره کې د نورو پر حق خپته اچوي او په دې ډول په یادو کې اداره کې شته استعدادونه له منځه ځي او یا کوبل کېږي. په لوړو پوستونو کې دا ډول خپل کسان ځنیې د قومي اړیکو او قوم پر بنسټ، ځینې د ګوندي اړیکو او ځینې هم د خپلو خپلوانو یا خپلولې اړیکو پر بنسټ ګومارل کېږي. په دې ډول ټاکنو کې دا مهمه نه ده، چې کار باید د کار اهل ته وسپارل شي، بلکې مهمه داده، چې څنګه خپل کسان ځای پر ځای کړي. دا ستونزه اوس تر ډېره دافغان حکومت په اداره کې لیدل کېږي او د دې ثبوت لپاره یې غوره داده، چې که یو بې پرې او باصلاحیته پلاوی وټاکل شي، او د هېواد په ټولو اداره کې داسې یوه سروې وکړي، چې هغه د عدالت او د استعدادونو او وړتیا پر بنسټ وي، نو دا به په ډاګه شي، چې په دې هېواد کې په اداري برخه کې څومره مشکلات موجود دي او څومره پراخ اداري فساد روان دی؟

باید وویل شي، چې ځینې لوړپوړي چارواکي نه یوازې دا چې خپل خپلوان، انډیوالان او نور نږدې کسان پر لوړو دندو ګوماري، بلکې د هغوی لپاره په لوړه پیمانه او د سوپر سکیل په نامه لوړ امتیازي معاشونه هم ټاکي او دا ډول معاشونه بیا هم د اداري اصلاحاتو د کمېسیون له خوا ټاکل کېږي او په دې صورت کې بیا هم خبره اداري اصلاحاتو کمېسیون ته راجع کېږي. باید وویل شي چې څو څو ځلې داسې هم

۳مخ

کندهار تر احمد ولي کرزي وروسته

د افغانستان د حالاتو څېړونکي په دې باور دي چې په دې وروستیو کې په کندهار کې د ولسمشر حامد کرزي د ورور قتل ممکنه ده چې د افغانستان په جنوب کې د قدرت پر سر سیالۍ ډېرې او طالبان لا زړور کړي.

کندهار چې د ولسمشر کرزي تاټوبی او د طالبانو د غورځنګ سیمه بلل کېږي د تیرو لسو میاشتو په ترڅ کې په کې ډېرې خونړۍ پېښې وشوې او د بېلابېلو قومونو ترمنځ د قدرت دوښ پر سر په کې سیالۍ روانې دي.

احمد ولي کرزی د جمهور رییس کرزي ورور او د کندهار د یوې لوړې کورنۍ غړی و، چې په سیمه کې یې د بېلابېلو قومونو ترمنځ اړیکه ساتلې وه.

که څه هم هغه په اداري فساد تورن و او دا هم ویل کېدل چې د مخدرو موادو په کاروبار کې لاس لري، خو بیا یې هم د دې توان درلود، چې له خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستو سره له امریکایانو سره د سیمه ییزو خلکو همکاري راجلب کړي.

د چارو څېړونکي په دې اند دي چې د هغه نشتوالی به په سیمه کې د قدرت خلا رامنځ ته کړي او ممکنه ده چې طالبان له دې وضعیت څخه ګټه پورته کړي.

د کندهار یوه څېړونکي، یونس فکور، د فرانسې خبري اژانس ته ویلي په کندهار کې به د احمد ولي کرزي له قتل سره نازک امنیت وضعیت لا خراب شي او طالبان به دا وضعیت له نژدې څاري.

د ده تر قتل څو ورځې مخکې کاناډایانو په کندهار کې خپل جنګي ماموریت پای ته ورساوه او په هماغه اوونۍ کې بیا امریکا هم له افغانستانه د خپلو ځواکونو تدریجي ایستل پیل کړل.

یونس فکور وایي وروستي حالات په کندهار او شاوخوا سیمو کې د بهرنیانو لاسته راوړنې له ګواښ سره مخامخوي.

تېر کال ناټو ځواکونو د کندهار د نیولو لپاره حملې پیل کړې. که څه هم د امریکایي ځواکونو قوماندان په دې سیمه کې د طالبانو د ماتې خبر ورکوي خو بیا هم د فرانسې د خبري اژانس د تبصرې له مخې د دې ولایت سخت دریځو طالبانو، په کامله توګه ماته نه ده خوړلې. د افغانستان د چارو یو لوی کارپوه کیت کلارک وایي په داسې حال کې چې د احمد ولي کرزي د ځایناستي په توګه د څو کسانو وړاندیز شوی و، خو د هغوی هېڅ یو په کندهار کې د سولې د راوستو لپاره کوم ابتکار نه درلود.

کلارک لیکي، د احمد ولي کرزي په شان د یوه پیاوړي کس په غیاب کې د امکان شته چې په کندهار کې اختلاف ډېر شي او د دې ولایت امنیت ته زیان ورسوي.

۳مخ

اداري فساد؛ بيا هم اوبه ...

شوي، چې يوه لوړپوړي چارواکي د ناڅر ګندو علتونو له امله په خپلو اداروکې ګڼ شمېر کارکوونکي له دندو ګوښه کړي او يا يې له لوړو اوواره دارو پوستونو لرې کړي او نورو تيتو او عادي پوستونو ته يې ورلېږلي دي او پر ځای يې خپل خپلوان، انډيوالان او نږدې کسان ګومارلي او بيا يې ښه په لوړه پيمانه د سوپرسکيل معاشونه هم ټاکلي دي او څوک ورته هېڅ هم نه شي ويلای، چې ښه مثال يې تېر کال د يوه خصوصي ټلوېزيون له خوا د يوه وزير په اړه د يوه رپوټ خپرېدل وو، چې په کې ويل شوي وو، په خپل وزارت کې يې ۵۳ تنه کارکوونکي د ناڅر ګند علت له امله له دندو ګوښه کړي دي. په رپوټ کې دا هم ويل شوي وو، چې په دغه وزارت کې تر ټولو لوړ معاشونه هم د وزير نږدې کسان او انډيوالان اخلي، خو وزير دا خبره نه منله. همداشان د دغه وزارت د لوړو معاشونو خبره هم افشا شوې وه او ويل شوي وو، چې د دغه وزارت د کارکوونکو د يوې مياشتې معاش له ۲۲۰۰ نه تر ۲۲۵۰۰۰ افغانيو پورې دی او په رپوټ کې د وزارت د يوه مقام له خولې دا هم ويل شوي، چې دغه لوړ معاشونه يوازې د وزير نږدې کسان تر لاسه کوي.

په دې توګه بايد ووايو، چې دا وزارت خو هسې يوه بېلګه وه، چې رسنيو تر پرده پورته کړه، بلکې د هېواد ډېرى اداري پر همدې برخليک اخته دي او همدالوړ او سوپرسکيل معاشونه سره له دې چې د چارواکو خپلوان او انډيوالان يې اخلي، د اداري اصلاحاتو د کمېسيون له لوري يې هم منظوري شوې وي. په دې برخه کې خو به شخصي او خصوصي اداري پرځای پر پردو، ځکه په ډېرى هغو کې دا خبره معمول ده، چې خپلې ټولې چارې خپلو کسانو ته سپاري. پر دې بنسټ ويلای شو، چې په هېواد کې د اداري فساد جړې ډېرې پخې تللې دي او ايستل يې هم څه اسانه خبره نه ده او منظم او سيستماتيک کار ته اړتيا لري. په دې توګه بايد افغان دولت دا مسئله په جدي توګه په ټولو اداروکې تر څېړنې لاندې ونيسي او په ځانګړې توګه د ننګرهار پر برېدي او کندهار ته مخه کړي.

په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو...

هم ده په عراق کې د سني يا غيانو په خپلولو سره يې لوی نوم وګوټ، خو په افغانستان کې يې عملاً د پام وړ تغيير رانه وستلی شو.

دی په دې بيا بيا ويارې چې په هلمند او کندهار کې يې وسلوال طالبان ځپلي خو که دا خبره حقيقت هم ولري دغو ولايتونو ته د اضافي ځواکونو د لېږلو طرحه هم د پخواني قومندان جنرال ستنلي مک کرسټل وه چې د ځواکونو د زياتولو په څنګ کې يې د ملکي تلفاتو پر کمولو ټينګار کاوه. جنرال پيټرايوس د امريکا د استخباراتو د مرکزي ادارې يا سي ای اې رييس ټاکل شوی دی.

په اندونيزيا کې د افغانستان ...

تر دې مخکې افغان حکومت د مصر د الازهر پوهنتون له مشر او د سعودي عربستان له پاچا ملک عبدالله نه غوښتي وو چې د افغانستان د سولې د بهير د بريالیتوب لپاره رامخکې شي، خو تر دې مهاله دغو غوښتنو ته څرګند مثبت ځواب نه دی ويل شوی.

تري چې، د مخابراتي سيالۍ په ...

ښه او مهم بلل شوي دي: (په ډېرو هېوادو کې عملي شوی، په اروپا، امريکا، منځنۍ ختيځ او په ځينو اسيايي هېوادو کې له دې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل کېږي او سلګونو ميليونه خلک له دې نه ګټه اخلي، نو زما په فکر د موبايل قيمتونه د تري جي د جي اس ام د موبايلو سره په راتلونکو کې دومره توپير ونه لري.)

د تري جي يا درېيم نسل په نامه دا نوې مخابراتي ټکنالوژي په داسې حال کې په افغانستان کې معرفي کېږي، چې دا مهال په دې هېواد کې يو دولتي او څلور خصوصي مخابراتي شرکتونه فعاليت لري، خو خلک د دې شرکتونو له ټيټ کاري کيفيت او د بيو له لوړوالي څخه شکايت کوي.

دغه راز د دې هېواد په ځينو سيمو کې دا مهال د نا امنيو او د وسلوالو مخالفانو د ګواښونو له امله مخابراتي خدمتونه يا په ټپه ولاړ دي او يا هم يوازې د ورځې له مخې ترسره کېږي.

د مخابراتو وزارت سرپرست هم دا ستونزه مني، خو وايي چې د اوارولو لپاره يې ان دامنيت د شورا په سطح خبرې او بحثونه شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت سرپرست څرګنده کړه، چې د نړيوالې داوطلبۍ پراساس به يو بل شرکت ته هم د تري جي مخابراتي او معلوماتي خدمتونو په برخه کې په دې هېواد کې د فعاليت کولو جواز ورکړل شي ترڅو په بازار کې سيالي ډېره او بېې را ښکته شي: (په دې شک نشته چې د نوې کمپنۍ راتګ په مارکيټ کې رقابت زياتوي او کله چې رقابت زيات شي نو ضرور ده چې په قيمتونو کې تغيير راشي او زمور اهداف هم دادی چې رقابت زيات شي.)

د نوري فايبر به برخه کې کابو دري کاله وړاندې په افغانستان کې کار پيل شو، چې د مخابراتو وزارت په خبره تر اوسه د يو شمېر ګاونډيو هېوادو سربيره په يوولسو ولايتونو کې دا سيستم فعاله شوی او تر راتلونکو دوو کلونو پورې به د دې هېواد ټول ولايتونه يې تر پوښښ لاندې راشي.

انجنير اميرزي سنګين وويل، چې دا مهال د افغانستان څلور فيصده وګړي له انټرنيټي خدمتونو څخه ګټه اخلي اوولس ميليونه خلک موبايل يا ګرځنده تيليفونونه لري او د دې هېواد په سلو کې اتيا وګړي مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی لري.

ده وويل، هڅه کېږي چې په راتلونکو دريو کلونو کې د افغانستان نيمايي وګړي د انټرنيټي خدمتونو اسانتياوې ولري او د تري جي يا درېيم نسل ټکنالوژۍ په برخه کې به دېوه نوي شرکت ترڅنګ موجوده پنځو مخابراتي کمپنيو ته هم په هماغه بيه د فعاليت جواز ونه ورکړل شي.

لست سياه، نام های سفيد شده ...

طالبان که سمت رياست الوزرا را به عهده داشت، در نتيجهٔ بيماری يی فوت کرد. همچنان رفيع الله، محمد صديق آخندزاده، رحيم الله زرمتی، عبدالغفور نيز از جملهٔ کسانی اند که در اوايل سقوط حکومت طالبان نسبت کهولت سن و بيماری از اين دنيا رحلت کردند. شخص ديگری که در اين لست نام وی به چشم می خورد، محمد حسين است که وی نيز، ۷ سال قبل در اثر بمباردمان طياره های ناتو در ولسوالی نوبهار زابل جان داد. افراد باقی مانده مانند سهيل شاهين، شمس الدين کمالزاده، سيد عليم الدين اسير، و محمد داوود از اشخاصی اند که در طول ده سال گذشته نه در رويايی بالفعل و نه بالقوه با دولت افغانستان و نيروهای امريکايی قرار نداشته اند. ولی کسانی که قبلا نام های شان اعلام شده بود، از جمله ارسلا رحمانی، حبيب الله فوزی، سعيدالرحمن حقانی و فقيرمحمد از شخصيت هايی اند که هم اکنون در همکاری نزديک با دولت قرار دارند و عملا در حيطهٔ اداره های دولتی افغانستان دارای مسوولييت هايی اند. پس کشيدن نام اينان از لست سياه، در روند مذاکرات صلح و جلب توجه طالبان چه کمکی خواهد کرد؟ در حالی که طالبان مسلح که هم اکنون در رويايی بالفعل با دولت افغانستان و نيروهای خارجی قرار دارند، همهٔ آنانی را که در کنار دولت آقای کرزی قرار دارند، طرف نظر از طالب بودن و طالب نبودن آنها، دشمن خود می دانند. بر همين مبنا، برخی از آگاهان امور به اين باور اند، اين گونه سفيد سازی های ليست سياه شورای امنيت هيچ گونه تاثير مثبتی روی اوضاع در افغانستان نخواهد داشت.

به باور آنها، اين جنگ، جنگ منطقه يی که به منافع همسايه گان است، صرف به ۱۴ نفر که ۵ يا ۶ آنها مريض است و ۴ آنها مرده اند و ۵ ديگر آنها به دولت پيوسته اند، صلح تامين نمی شود در همين حال، شمار ديگری از کارشناسان ابراز می دارند، بازی های بزرگ سياسی در پشت پرده جريان دارد و به باور آنان، اقداماتی که از سوی جامعهٔ بين المللی به عنوان تشويق طالبان جهت گفتگو با دولت افغانستان و تامين صلح در اين کشور صورت می گيرد، تا زمانی که ريشهٔ اصلی معضل افغانستان به طور اساسی و دقيق بررسی نشود و طرف اصلی قضيه مورد توجه قرار نگيرد، اين کوشش ها بی اثر خواهد بود.

شمار سربازان کشته ...

تاکنون، شمار عساکر کشته شدهٔ ناتو در مناطق مختلف کشور، به ۳۱۸تن رسيد که ۲۲۲تن آنها امريکايی هستند. اين در حالی است که سال گذشته، ۷۱۱سرباز خارجی در افغانستان کشته شده بود.

تفويض مدال غازی وزير اکبر خان ...

فرمان رييس جمهور را قرائت کرد و گفت که مدال دولتی وزير محمد اکبر خان به پاس خدمات قابل قدر جنرال ديويد پترايوس که در زمان تصدی مأموريتش به عنوان قوماندان نيروهای ناتو در جلب همکاری های کشور متبوعش در امر انکشاف نهادهای امنيتی افغانستان و تسريع روند انتقال مسوؤليت های امنيتی، سعی و تلاش همه جانبه مبذول داشته، منظور شده است.

رييس جمهور پس از تفويض مدال به جنرال پترايوس که دورهٔ مأموريتش در افغانستان پايان يافته است، در وظيفهٔ مهم بعدی اش آرزوی موفقيت کرد.

گفتنی است که جنرال پترايوس قرار است، به زودی رياست ادارهٔ استخبارات مرکزی ايالات متحدهٔ امريکا را برعهده بگيرد و جنرال آلن جانشين وی در افغانستان خواهد شد.

د ريګستان امنيه قومندان ووژل شو

د کندهار امنيتي چارواکي وايي، پرون له غرمې مخکې د ريګستان ولسوالۍ د امنيې قومندان بسم الله جان د ماين په چاودنه کې ووژل شو او يو ساتونکی يې ټپي شو.

د کندهار د امنيت امر شيرشاه يوسفزي ازادی راډيو ته وويل، چاودنه هغه مهال رامنځ ته شوه چې بسم الله جان د ريګستان او سپين بولدک ترمنځ سيمه کې په ګزمې بوخت و.

وسلوالو طالبانو د پېښې مسوولیت پر غاړه اخيستی او ادعا کوي چې په دې چاودنه کې د امنيې قومندان او ۷ ملګري يې وژلي. خو امنيتي چارواکي دغه ادعا نا سمه بولي.

حادثهٔ تازهٔ بمبیی می تواند، مذاکرات صلح میان هند و پاکستان را به مخاطره اندازد



در حالی که هیلری کلنتن وزیر خارجهٔ ایالات متحدهٔ امریکا دیروز رهسپار دهلی گردید، تا روند مذاکرات صلح بین هند و پاکستان را سروسامان بخشیده و مدیریت نماید، اما گمان می رود، وقوع سه انفجار اخیر در بمبیی در هفتهٔ گذشته، بردیدار این مقام امریکایی، از دهلی نو و مذاکرات صلح میان هند و پاکستان سایه افکند. چنانکه گفته می شود، در صورت ارتباط پاکستان با این انفجارها مذاکرات صلح به خطر می افتد.

هیچکس مسوولیت بم گذاری های روز چهارشنبهٔ شام، ۱۳ جولای در بمبیی را برعهده نگرفت. براثر این حمله ها، حداقل ۱۸ تن کشته و بیش از ۱۰۰ تن دیگر زخمی شد. پولیس مسوول تحقیقات نیز نتوانست، هیچ سرنخ اصلی عاملان را به دست بیاورد.

چیدام بارم، وزیر داخلهٔ هند، روز پنجشنبه در یک صحبت کوتاه با خبرنگاران دربارهٔ روند تحقیقات انجام شده در این راستا گفت، او شبکهٔ افراد مظنون را تا آنجایی که ممکن است، مشخص خواهد کرد، تا انگشت اتهام را از پاکستان دور کند. او گفت: "ما همه گروه های دشمن هند را در نظر داریم".

دست داشتن یک گروه مستقر در پاکستان در حملات روز چهارشنبه، می تواند روابط بین دهلی نو و پاکستان را به سرعت باردیگر به دورهٔ انجماد برگرداند؛ آنهم در لحظه یی که این دو همسایهٔ مسلح به سلاح های اتومی، مذاکرات صلح را با تردید و تأمل آغاز کرده اند.

هند، ارتش و دستگاه های استخباراتی پاکستان را متهم می کند که به گروه های جنگجو برای حمله در خاک این کشور کمک می کند. این گونه حملات در گذشته ها، این دو همسایه از هم بیگانه شده را تا لبهٔ جنگ کشاند. براهما چلانی از بنیاد تحقیقاتی مرکز تحقیقات سیاسی مستقر در دهلی نو به خبرگزاری فرانس پرس گفت: "هنوز زود است که بتوان کسی را متهم کرد. مسیر تحقیقات می تواند، به هر جهتی برود. (اما) اگر روند تحقیقات ارتباطات فرامرزی را ثابت کند، این بر روند مذاکرات تاثیرخواهد گذاشت".

در صورتی که ثابت شود، پاکستان به هر نحوی در این حملات دست داشته است، کلنتن برای لغو کمک های نظامی به اسلام آباد، حین مذاکراتش با منموهن سینگ امروز، تحت فشار قرار می گیرد.

هفتهٔ گذشته، اس ام کریشنا، وزیر خارجهٔ هند، از تصمیم واشنگتن مبنی بر تعلیق کمک های نظامی به ارزش ۸۰۰ میلیون دالر به پاکستان استقبال کرد.

یک مقام وزارت خارجهٔ هند که نخواست نامش فاش شود، به خبرگزاری فرانسپرس گفت: "مبارزه علیه تروریزم همیشه بخشی از مذاکرات استراتیژیک ما بوده است". کلنتن هفتهٔ گذشته گفت: "همراهی ما با هند از هر زمان دیگری مهمتر است". او دوباره بر "تعهدش به مبارزه مشترک علیه تروریزم" تایید کرد.

روبرت هاتوی، مدیر برنامهٔ آسیایی یک مرکز تحقیقاتی در واشنگتن دی سی گفت، حمله های روز چهارشنبه گذشته در بمبیی «به طور اجتناب ناپذیری بر دیدار کلنتن، وزیر خارجهٔ امریکا از هند، تاثیرگذار خواهد بود". او گفت، این خونریزی در پایتخت تجارتی هند، می تواند توازن حساس رابطهٔ ایالات متحدهٔ امریکا را در منطقه با هند، پاکستان و افغانستان به لرزه در آورد". هاتوی افزود: "در صورتی که مشخص شود، پاکستانی ها به هر نحوی، در این حمله دست داشته اند، شکایت های هند به امریکا قوت می یابد. مقام های هند می گویند، ایالات متحدهٔ امریکا پاکستان را نازپرورده می کند و به اندازهٔ کافی در برابرش جدی و سختگیر نیست".

هند مذاکرات صلح با پاکستان را پس از حملهٔ ماه نومبر سال ۲۰۰۸ به بمبیی متوقف کرد. در این عملیات، ۱۰ مرد مسلح طی ۶۰ ساعت، ۱۶۶ تن را کشتند. لشکر طیبه مستقر در پاکستان متهم به انجام این حملات شد.

در مورد انفجارهای روز چهارشنبه، سؤظن متوجه گروهی موسوم به مجاهدین هند است. این گروه که در هند مستقر است، با لشکر طیبه ارتباط دارد. اما آنها هرگاه در گذشته دست به عملیاتی زده اند، مسوولیت آنرا نیز، برعهده گرفته اند.

در صورت افشای هرگونه ارتباط پاکستان با انفجارهای اخیر، کریشنا، وزیر خارجهٔ هند، ممکن است، براثر فشار افکار عمومی مجبور به لغو دیدار با حنا ربانی کهر، همتای پاکستانی خود شود. قرار است این دیدار در آخرین هفتهٔ ماه جولای دردهلی برگزار شود.

گوپالاسوایم پارتازاراتی، یک سفیر پیشین هند در پاکستان گفت: "اگر ثابت شود که مجاهدین هند در انفجارهای بمبیی دست داشتند، این موضوع به مذاکرات آسیب خواهد رساند؛ زیرا ارتباط بین مجاهدین هند و لشکر طیبه به خوبی ثابت شده است". به گزارش دویچه وله، سیاست حکومت هند دربارهٔ پاکستان که توسط صدراعظم سینگ، با فشار به پیش برده می شود، در معرض انتقاد شدید حزب ناسیونالیست هندو، بهاراتیه جاناتا، جناح اصلی مخالف دولت قرار گرفته است. سینگ تلاش دارد، مشکلات با پاکستان را از راه مذاکره برطرف کند.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده بیست ویکم: ۱ – ح: کمیته موظف است درمدت ۱۲ ماه پس از تاریخ دریافت اخطاریه بنا به زیر بند (ب) گزارش بدهد:

۱) اگر راه حلی بنا به مقررات زیر بند (ه)حاصل شده باشد، کمیته گزارش خود را به یک خلاصه گزارش منحصر خواهد کرد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com